# ایباراکی پریفکچر قانون لپاره په یارډ کښے د ګاډو موټرو په مناسب طریقه کار سره سنمبالول

## تاریخ لاګو 2017/04/01

## هدف مقرره قانون

د دې مقرره قانون هدف مقصد دا ده چې اوس په یارډونو کښے کوم د غلا ګاډی موټرے معامله کیګی او ماتیګی- نو په دې اړه سره په یارډ کښے د ګاډو موټرو د معاملاتو دپاره یو مناسب طریقه کار جوړ شی او قانون سازی اوشی- چې د ګاډو موټرو د غلا مخه یې ونیولی شي-

## یارډ څه شی دی

د دې مقرره قانون مطابق **یارډ** به هغه ځای یا انګړ ته ویلی شی - چې پکښے د ګاډو ماتولو شیانو ځای او خوا وشا ځای نه اغزن تار یا پناۍ دیوال داسے چاپیره وی - چې له بهر نه د ننه ګاډی ماتول په څرګند ډول لیدلو کښے مشکل او دشواری وی-

○ که پناۍ د ټول ځای نه چاپیره نه وی او لږ ځای نه چاپیره وی- بیاهم چې له بهر نه د ننه ګاډی ماتول په څرګند ډول لیدلو کښے مشکل او دشواری وی- نو منظور دے-

○ چې کوم **یارډ** (انګړ) د 450 مربع متر نه کمه رقبه کښے دے- او کاروبار یۍ د ګاډو ماتولو نه دے- نو هغه د دې مقرره قانون نه بهر دے- خو چې دا یي کاروبار دے- نو که یارډ (انګړ) د 450 مربع متر نه کم هم دے- د دې مقرره قانون لاندے دے-

○ هغه منتظم شرکتونو ، کمپنیانو والا چې د علاقے د ترانسپورت بیورو د مشر له خوا نه تصدیق لری -او د مینټنانس په غرض سره د ګاډو ماتولو ، سمولو کار کوۍ- نو دا مقرره قانون پے لاګو نه دے

# ایباراکی پریفکچر پولیس

## باطلې (قانون نہ بهر)

چې له دے موضوع څخه بل برابر قانون د پخوا نه موجود وی - نو دوه برابره مقرراتو ، قانونو ته ضرورت نیشتہ - او دا نوے قانون بہ نہ لاګو کیګی - (لاندے جدول تہ اوګورۍ -)

○ : لاګو — : باطلی △ : نیم باطلې

| | علاوه ※4 | زور انتیق کاروبار والا | ګاډو ماتولو والا | ګاډو سمولو یعنی ( مینټنانس ) والا |
|---|---|---|---|---|
| (خبرتیا ) نوټس | ○ | ○ | — | — ※1 |
| د خرسونکی شناخت تصدیق وغیره | ○ | — ※3 | △ ※2 | |
| د شناخت کاغذونہ مخفوظ ساتل | ○ | | | |

※1 د ګاډو پرزے د ګاډو سمولو یعنی ( مینټنانس ) پہ غرض سره لرے کول پورے محدود ده - پہ نور مقصد سره ګاډی ماتولو، پرزےکولو باندے بہ قانون لاګو کیګی -

※2 هغه ګاډی چې د هغے ترلاسہ کولو، حرکاتو رپورټ د ګاډو ریسایکل قانون مطابق د الیکټرانک منشور پہ انفارمیشن مینجمنټ سنټر کښې شوی وی- نو دا قانون پرې لاګو نہ دے-
د دې نہ علاوه ګاډی (چې د ګاډو ریسایکل قانون مطابق صحیح طریقہ کار نہ بغیر ګاډو ماتولو والا تہ رسیدلی وی ) نو د دې قانون لره بهر کیدی نہ شی -

※3 هغه زاړه، پخوانی ګاډی (مثالا" چې د زوړ ګاډی پہ طور مخکے خرسیګی ) چې ترلاسہ کولو پہ وخت بہ د انتیق کاروبار قانون لاندے د خرسونکی تصدیق کول او کتاب کښې رکارډ سمبال ساتنه چونکہ لازم وی- نو پہ دې وجہ د دې نوے قانون لره بهر دی -
ګاډی کہ زوړ د انتیق هم وی - خو چې د ماتولو دپاره یی ترلاسہ کړی وی - نو د دې قانون لره بهر کیدی نہ شی -

※4 د ګاډو سمولو(مینټنانس) کاروبار، د ګاډو ماتولو کاروبار او د انتیق کاروبار والا ټول چې څوک اجازت نامہ نہ لری- نو پے دا قانون لاګو کیګی - چې څوک هم د اجازت نہ بغیر کارباندے اوموندلی شو- نو متعلقہ قانون بہ هم لاګو کیګی -

## د پوښتنې ځای

○ Ibaraki Prefecture Police Headquarters Lifestyle Safety Department
Safe and Secure Town development promotion office
Yard staff **029-301-0110** (Represintative)
○ Nearest police station life safety department (staff)
○ Ibaraki Prefecture Police Website
**http://www.pref.ibaraki.jp/kenkei/**

## نوټس ( خبرتیا)

د پریفکچرد علاقے پہ **یارډ** (انګړ) کښے چې کلہ هم ګاډی ماتول وی - نو مخکې بہ پبلک سیفټی کمیشن ( کو آن اینکائے ) کښے رپورت یا خبر کول لازم وی-
د 1 اپریل 2017 پہ ورز هم چې د کومو ګاډو ماتول کیګی - پبلک سیفټی کمیشن ( کو آن اینکائے ) کښے د هغوی رپورت کول لازم دی- ( د 30 جون 2017 پورے )

- دا مقرره قانون پہ هغه چا لاګو نه دے - څوک چې د ګاډو ریسایکل قانون (جیدووشا ریسایکل هوو ) مطابق د ګاډو ماتولو اجازت نامہ لرونکی دی -
- درخواست یعنی نوټیفیکیشن فارم کښے د یارډ ځای ، رقبہ اندازه ، مشینان یعنی تجهیزات وغیره لیکل دی - د یارډ د ځای نقشہ او د ځای د استعمال اختیار نامہ یا د ثبوت کاغزونا ورسره لګول دی -
- د رپورت کولو نہ پس هم، کله چې څہ تبدیلی واقع شی - یعنی کار بس کی، اودریګی ، یا دوباره شروع کی نو دوباره پبلک سیفټی کمیشن کښے رپورټ یعنی خبر کول لازم دی-
- د رپورت کولو دفتر د یارډ د علاقے پولیس سټیشن کښے واقع د پبلک سیفټی پہ دفتر ( سَیئ ګتس آنزئین کا) کښے کیږي -

## د ګاډی اخستو په وخت د خرسونکی باور کول

د ماتولو لپاره موټر ترلاسه کولو په وخت کې، دا لازمي ده چې د خرسونکی نه د ګاډی چلولواجازت پاڼه (ډرائیونګ لائسنس) وغیره ترلاسه کړی - او د هغوی د نوم او اوسیدو پته تصدیق اوکړي- دا هم لازمي ده چې د دي ګاډو د تفتیش سند ( اټوموټیو انسپیکشن سرټیفیکیټ یعنی جیدوشا شاکین شو) وغیره تر لاسه کړي-

په هغه صورت چې د ګاډی د تفتیش سند کاغزونو وغیره کښے لیکلے شوے د مالک نوم مختلف وی- نو بیا بہ د انتقال د لیک (ټرانسفر لیټر یعنی جووتو شو مئ شو) ، مختیار نامہ (اینینجو) وغیره تر لاسه کول لازم وی- چې د هغے نہ د ګاډی د حقوق ، اختیار ورکولو تصدیق کیدی شی -

ترلاسه شوے ګاډے کله چې د غلا شکمن وموند لے شو، نو زر تر زره به پولیس کښے رپورټ درج کول لازم وی-

- د وړاندې کولو ټول ضروري کاغزونه به د کاپئ صورت کښے نه منلے کیږي.
- د غلا شکمن ګاډو مثالونہ
  * هغه ګاډی چې چیسز نمبر یئ وران شوی وی -
  * هغه ګاډی چې د چابئ ځای (سورے یا سیلنډ ر ) یئ وران شوی وی -
  * هغه ګاډی چې پکښے قانونی ضروری کاغزونہ (اټوموټیو انسپیکشن سرټیفیکیټ ، جبائی سیکی حوکین ، یعنی د ګاډو د مسؤلیت بیمې، او د شخصي بیمې سند یعنی هی حوکین شہ شو وغیره ) نہ وی -

## د وړاندې اسنادو کاپي ساتنه

د ګاډی ترلاسه کولو په وخت کې، د خرسونکی د شناخت دپاره چې کوم کاغزات استعمال شی - نو دهغوی یوا کاپی بہ ساتل لازم وی - دا کاپی بہ د جوړولو د ورزے نہ پورا یو کال پورے ساتل لازم وی -

- هغه کاپي چې کومہ له اصلي اسنادو نہ پہ کاپي مشین باندے ، پہ کاغز باندے جوړه وی نو منلے کیګی بہ - خو د دیجیتال کیمرے یا سکینر تصویر نہ پرنټ شوے کاپی بہ نامنظوره وی -

## د ځمکې د انتقال وغیره اقدامات

د پریفکچر پہ علاقه کښے موجود د ځمکے یا د آبادئ مالک کلہ هم چې دا ځای داسے کس باندے خرسوی پا پہ کرایا باندے ورکوی - چې هغه پہ دے یارډ (انګړ) کښے بہ د ګاډو ماتولو کار کوی - نو د ایګریمنت یعنی تړون نہ مخکې به د دے خبرے باور کوی - چې دا ځاے به د غلا د ګاډو ماتولو په طور نه استعمالیګی-

د ایګریمنت یعنی تړون نہ وروستو هم که دا ومونده شوه چې په دے ځای (ځمکه یا ودانئ) کښے د غلا ګاډے مات شوے وو - نو مالک بہ ایګریمنت یعنی تړون ختمہ وی - او ځای بہ واپس اخستو کوشش کوئ-

## پہ ځآی تفتیش

د پولیسوالو تہ اختیار دے - چې یارډ (انګړ) تہ، دفتر تہ او نورو اسانتیاوو ته ننوځي او هر سند، کاغذ وګورئ او د متعلقه اړونده کس پوښتنہ اوکړی .

## سزا

د قانون ماتولو مجرم دپاره سزا او جرمانہ

- د درے (3) میاشتو پورے جیل یا 3 لاکھ ین پورے جرمانہ
  * هغه کس چې په یارډ کښې یے ګاډی بغیر رپورټ کولو یا غلط معلومات په بنیاد مات کړل-
  * هغه کس چې د خرسونکی تصدیق اونہ کړي او ګاډے ترلاسه کړی -
  * هغه کس چې د خرسونکی د شناخت تصدیق متعلق کاغذونہ یے مخفوظ اونہ ساتل -
- 3 لاکھ ین پورے جرمانہ
  * هغه کس چې په یارډ کښې یے بغیر رپورټ کولو یا د غلط معلومات په بنیاد تبدیلی کړی وی
  * هغه کس چې راغلی پولیس ډب کړي، رکاوټ کړي، یا پولیسو ته غلط ځواب وغیره ورکړی -